# دلــوړو زده کړو وزارت

## تابش پوهنتون

## محصلانو چارو معاونیت

### دحقوقي کلینیک مدیریت

# دحقوقي کلینیک اساسنامه

کال ۱۴۰۴هـ ش

# مقدمه

څرنګه چې معلومه ده، حقوق او شرعيات دټولنيزو علومو څخه  يو علم دی چې اساسي هدف او مقصد يې دټولنې په هره برخه کې دنظم رامنځته کول دي ترڅو دټولنې هر وګړې د ځان، مال ، حيثيت او ازادې په رابطه دکامل امنيت او مصؤنيت احساس وکړي ، چې داچاره په ټولنه کې   دعدالت  دتآمين باعث ګرځي، پس ويلې شو، چې دحقوقو او شرعياتو علم دټولنې په هکله دنورو علومو په نسبت مهم مسؤليت پر غاړه لري،ځکه دحقوقو علم دې چې په ټولنه کې داشخاصو د حقوقو  حفاظت او ساتنه کوي ، که احياناً په ټولنه کې دغير قانوني  کړنو دامله يو چاته ضرر رسيږي، دحقوقو دنده ده ترڅو دمتضرر  ته رسيدلې ضرر په داسې ډول جبران کړي  کوم چې عدالت يې تقاضا لري، داچې دحقوقو علم ديوې خوا خورا مهم ده، او دبلی خوا يې دفعاليت ساحه نسبت نورو علوموته پراخه ده، بناء همدې ټکو ته په کتو، اړينه ده چې دحقوقو علم   هم په نظري  لحاظ او هم په  عملي لحاظ زده کړل شي، څرنګه  دحقوقو دعلم زده کړه، دوه مهم پړاونه لري چې عبارت له نظري پوهې پړاو  او عملي پوهې  پړوا څخه ده، دحقوقدانو لپاره لازمه ده چې دنظري پوهې څخه علاوه عملي پوهه هم ترلاسه کړي، لکه څنګه چې دطبابت په برخه کې زده کړيال ديوڅو طبي کتابونو په لوستلو سره طبيب نشي جوړيدای، ترهغې پورې چې په عملي لحاظ يې پوهه نوي ترلاسه کړي  په همدي  ډول  دحقوقو دعلم زده کړيال  هم ترهغه حقوقدان نه ګڼل کېږي ترڅويې چې  دنظري پوهې ترڅنګ عملي پوهه ترلاسه کړي نه وي ، هغه کسان چې  دلسانس په دوره کې يوازې نظري پوهه ترلاسه کوي،اما عملي پوهه ونلري د ټولنې دعيني واقعيت سره دمخامخ کيدو په صورت کې دخورا ستونزو سره مخ وي ،اساسي علت يې د نظري او عملي پوهې ترمنځ  دفاصلې (واټن) شتون دې، بناء ددې لپاره چې دحقوقو دعلم پورته دواړه ذکر شوې پړاونه سره نژدې او ددوې ترمنځ موجود واټن له منځه لاړ شي .او دحقوقو دعلم زده کړيالان  په مسلکی او عملي لحاظ په سالم ډول وروزل شي  لازمه ده چې دحقوقو او سياسي علومو پوهنځي تر چتر لاندې، يو  مرکز دحقوقي کلينيک تر عنوان لاندې هم وجود ولري ، ترڅو زده کړيالان دتيوريکي پوهې ترڅنګ عملي پوهه په دي مرکز کې د باتجربه استادانو دنظر لاندې ، دعملي کارونو په اجراء سره د کلينيکي فعاليتونو  دلاري ، ترلاسه کړي،  چې حقوقي کلينيک  لاندې موضوعاتو ته شامل دي.

## لړليک

## لومړی فصل

## عمومي احکام

| ماده | عنوان | مخ |
|---|---|---|

لومړی ماده: مبني......1
دويمه ماده: اهداف......1
دريمه ماده: اختصاري نوم......۲
څلورمه ماده: دفعاليت مرکز......۲
پنځمه ماده: استقلاليت......۲
شپږمه ماده: دفعاليت ډول......۲

## دويم فصل

## تشکيل، دندې او صلاحيتونه

اوومه ماده: تشکيل......۳
اتمه ماده: درهبرۍ بورد......۳
نهمه ماده: درهبرۍ دبورد دندې او صلاحيتونه......۳
لسمه ماده: درهبرۍ دبورد جلسات......۳
يوولسمه ماده: درهبرۍ هيئت......۳
دولسمه ماده: درهبرۍ هيئت دندې او صلاحيتونه ......۴
ديارلسمه ماده: درهبرۍ هيئت جلسات ......۴
څوارلسمه ماده: دکلينيک د مدير دټاکلو طرز......۴
پنځلسمه ماده: دعلمي کادرغړي غړي......۴
شپاړلسمه ماده: دعلمي کادر دغړو دندې او صلاحيتونه......۵
اوولسمه ماده: مشورتي بورد......۵
اتلسمه ماده: دمشورتي بورد دندې او صلاحيتونه......۵

## دريم فصل

## مالي منابع او دهغې داداره کولو طرز

نولسمه ماده: مالي منابع......۵
شلمه ماده: دمالي مصارفو څخه نظارت......۵

## څلورم فصل

## متفرقه احکام

یوویشتمه ماده: مُهر........................................................................................٦
دوه ویشتمه ماده: عدم انحلال..............................................................................٦
در ویشتمه ماده: دتفاهم نامو لاسلیک او همکاري...................................................٦
څلورویشتمه ماده: داساسنامې محتوی......................................................................٦

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**۱ ماده:**

دغه حقوقي کلینیک دحقوقي مسلکي مهارتونو او حقوقي زده کړو دیو روزنیز مرکز په توگه تابش پوهنتون دحقوقو او شرعیاتو پوهنځیو دمحصلینو لپاره لوړو زده کړو وزارت اړوند دملکي لوړو زده کړو قانون د یوولسمې مادې اوومې فقرې او دعدلیه وزارت

دحقوقي مساعدت دتنظيم مقرري دريمې مادې نهمې فقرې دصراحت په اساسد تابش پوهنتون دحقوقي کلينيک دندو او صلاحيتونو دتشکليل، تنظيم، دفعاليت د څرنګوالي او نورو اړوندو چارو په منظور وضع شوی ده.

**اهداف**

**۲ ماده:**

**د تابش پوهنتون حقوقي کلينيک دلاندې اهدافو دلاسته راوړلو په موخه فعاليت کوي:**

1. داسلام دمبارک دين داحکامو دتطبيق څخه حمايت او دقانون او عدالت حاکميت.
2. د ملي او بين المللي معيارونو په رعايت او د تابش پوهنتون دحقوقو او شرعياتو پوهنځيو د درسي برنامو په همکارۍ د محصلينو د مسلکي پوهې د لوړولو په موخه د روزنيزو، عملي او تحصيلي حقوقي برنامو ايجادول.
3. زيانمن او بې بضاعته اشخاصو لپاره حقوقي مساعدت او دحقوقي خدماتو وړاندې کول.
4. په جزايي او مدني موضوعاتو کې دغوښتونکو لپاره دحقوقي خدماتو وړاندې کول.
5. دزيانمن او بې بضاعته ماشومانو او ښځينه وو لپاره د وړيا حقوقي خدماتو وړاندې کول.
6. حقوقي خدماتو او حقوقي مساعدتونو ته دخلکو دلاس رسی لپاره زمينه برابرول.
7. ددفاع وکالت دفن رايجول.
8. په جزايي او مدني موضوعاتو کې ددفاع وکالت دمهارتونو سره دمحصلينو آماده کول.
9. دحقوقي روزنيزو برنامو او حقوقي عامه پوهاوی له طريقه دټولنې دافرادو دحقوقي پوهې دکچې لوړول په ځانګړې ډول دځوان نسل.

**اختصاري نوم**

**۳ماده:**

ددې بنسټ بشپړ نوم د تابش پوهنتون حقوقي کلينيک دی( Legal Clinic Of Tabesh) چې مختصر يې LCTU به وي او له دې وروسته په دې اساسنامه کې به دکلينيک په نوم يادېږي.

**دفعاليت مرکز**

**۴ماده:**

دکلینیک اصلي دفتر د تابش پوهنتون په محوطه کې ده، او دضرورت په وخت کې کولی شي چې دحقوقي مساعدتونو او دحقوقي عملي مهارتونو دوړاندې کولو په منظور په نورو ځایونو کې ساحوي دفاتر تاسیس کړي.

**استقلالیت**

**۵ماده:**

دغه کلینیک یوه خپلواکه او غیر انتفاعي بنسټ دی چې ددې اساسنامې او نورو تقنیني اسنادو داحکامو مطابق خپل اجراآت تنظیموي.

**دفعالیت ډول**

**٦ماده:**

دحقوقي کلینیک فعالیتونه په دوه مرحلو کې چې مجموعاً شپږ میاشتې په بر کې نیسي ، لمړې دوه میاشتې ددرسي صنف په شکل د(pre-Clinic) دوره چې پدی دوره کې محصلینو ته کلینیکي فعالیتونه په نظري لحاظ وړاندی کېږي او دویمه څلور میاشتنی د(Clinic) دوره چې په کې حقوقي قضایاوو (مدني او جزایي) کې عملي کار، دحقوقي مشورو وړاندې کول، منځګړیتوب، دحقوقي عامه پوهاوی دبرنامو په لاره اچولو، او د بې بضاعته اشخاصو لپاره د وړیا حقوقي مساعدتونو لپاره زمینه برابرول ،شامل دي

## دویم فصل

## تشکیل، دندې او صلاحیتونه

**تشکیل**

**۷ماده:**

کلینیک د رهبرۍ بورد، درهبرۍ هیئت ،علمي کادرغړو، او مشورتي بورد درلودونکی دی.

**درهبرۍ بورد**

**۸ماده:**

درهبرۍ بورد دتصمیم نیونې عالي ترین مرجع ده چې درهبرۍ هیئت، مشورتي بورد او دعلمي کادر دغړو څخه جوړه ده.

**درهبرۍ دبورډ دندې او صلاحیتونه**

**۹ ماده:**

**درهبرۍ دبورډ دندې** او **صلاحیتونه په لاندې ډول دي:**

1. د حقوقي کلینیک عمومي ستراتیژي جوړول، پرمختیایي پلانونه طرحه کول؛
2. د محصلینو لپاره د عملي حقوقي روزنې پروګرامونه تنظیمول (علمی برنامې، مشورې، مباحثې، کیس سټډیز...)
3. د واقعي مراجعینو سره د مشورې، دوسیو تحلیل او اسنادو ترتیب تمرین
4. د حقوقي مرستو مؤسسو سره همغږي .
5. د مضامینو - ټرینرانو ټاکل او درسي اوقاتو تنظیمول.
6. د کلینیک د فعالیتونو څارنه، ارزونه او شفافیت تضمین
7. .د استادانو او مسلکي وکیلانوسره د مشورتي روزنو، ورکشاپونو همغږي؛
8. د حقوقي کلینیک لپاره اړین منابع، تجهیزات، او اسانتیاوې تضمینول؛
9. د محصلینو د ښې فعالیت ارزونه، تقدیر یا انتخاب د تمثیل لپاره (تمثیلي محکمې، حقوقي کنفرانسونه...)؛
10. د ټولنې د حقوقي پوهاوي لپاره عامه سیمینارونه یا کمپاینونه تنظیمول
11. د بورډ د پرېکړو مستندسازي، راپور ورکول، او دوامدار اصلاحات راوستل.
12. نورې هغه دندې چې لوړو زده کړو وزارت په تقنیني اسنادو کې ذکر شوې دي او یا هم د ذیصلاح مراجعو لخوا ورته راجع کیږي.

**درهبرۍ دبورد جلسات**

**۱۰ماده:**

درهبرۍ بورد په هرو شپږو میاشتو کې یوه عادي جلسه دایروي او فوق العاد جلسې دبورد دغړو ددوه ثلث اراو په اساس دایریږي.

**درهبرۍ هیئت**

**۱۱ ماده:**

درهبرۍ هیئت درهبرۍ دبورډ څخه وروسته دکلینیک عالیترین ذیصلاح مرجع ګڼل کیږي، چې له رییس او درې غړو څخه په لاندې ډول تشکیل شوی دی:

۱: محصلانو چارو مرستیال د بورډ د مشر په توکه

۲: د حقوقي کلینیک مدیر د غړي په توگه

۳: د حقوقو او شرعیاتو پوهنځیو رئسان د غړو په توگه

**درهبری هیئت دندې او صلاحیتونه**

**۱۲ماده :**

**درهبری هیئت دلاندې دندو او صلاحیتونو لرونکې ده**

1. دکلینیکي فعالیتونو لپاره د تدریسي برنامو اوموادو تعین او تهیه کول .
2. دکلینیک دعملي فعالیتونو لپاره د زمینی برابرول.
3. په کلینیک کې د تدریس او عملي فعالیتونو دترسره کولو په برخه کې دآسانتیاؤ برابرول.
4. دزده کړیالانو دشکایاتو اوریدل او دهغو دحل په برخه کې عملي اقدامات .
5. دکلینیکي برنامو لپاره د مسلکي اشخاصو دجذب په برخه کې مرسته کول.
6. دحقوقي کلینیک سره دداخلي او خارجي مؤسساتو دهمکاریو او هوکړه لیکونو پر اسنادو باندې نظارت کول.

**درهبری هیئت جلسات**

**۱۳ماده:**

درهبری هیئت عادي جلسات په هر و دوه میاشتو کې یوځلي دایریږي، ریئس کولاې دضرورت پربنا ، فوق العاده جلسات دایرکړي.

**دکلینیک د مدیر دټاکلو طرز او طریقه**

**۱۴ماده:**

دحقوقي کلینیک مدیر د یو کال لپاره د محصلانو چارو معاونیت په پشنهاد ټاکل کیږي.

**علمي کادر غړي**

**۱۵ماده:**

علمي کادر غړي (ترینران) دحقوقو او شرعیاتو پوهنځیو داستادانو، عدلې ریاست اړوند دمدافع وکیلانو دخپلواکې ټولنې، قضات اومدني ځارنوالانو څخه د یو کال لپاره ټاکل کیږي.

**دعلمي کادر دغړو دندې او صلاحیتونه**

**۱٦ ماده:**

**دعلمي کادر غړي دلاندې دندو او صلاحیتونو درلودونکي دي:**

1. دټاکل شوي برنامې له مخې دتیوریکي درسونو پرمخ وړل.
2. په عملي قضایاوو او دموضوعاتو په تحلیل کې دمحصلانو رهنمایي کول.
3. مشورتې برنامو کې ګډون کول.
4. دکار آموزانو دمشورتي برنامو د طریقې څخه نظارت کول.
5. په اړونده حقوقي او قضایي مراجعو کې دکارآموزانو لپاره دعملي کارونو زمینه برابرول.
6. دمحصلینو دعملي کارونو ارزیابي او دحقوقي کلینیک آمر ته دهغې راپور ورکول.

**مشورتي بورد**

**۱۷ماده:**

مشورتي بورډ دکلینیک د آمر، معاون او د حقوقو پوهنځې د دیپارټمنت د آمرینو څخه تشکیلیږي.

**دمشورتي بورد دندې او صلاحیتونه**

**۱۸ماده:**

**دمشورتي بورد دندې او صلاحیتونه په لاندې ډول دي:**

1. په هرو شپږو میاشتو کې دحقوقي کلینیک دکارونو په هکله مشاورتي ناسته کول.
2. دحقوقي کلینیک دعملي برنامو د لا ښه والي په موخه دلازمو مشورو ورکول.
3. دحقوقي کلینیک لخوا د تمثیلي برنامو په هکله، دلازمو مشورو ورکول.
4. دحقوقي کلینیک سره د تمثیلی برنامو په برخه کې دمموادو دبرابرول او دښه تمثیل په هکله دنظریو وړاندی کول.

## دریم فصل

## مالي منابع او دهغې داداره کولو طرز

**مالي منابع**

**۱۹ ماده:**

حقوقي کلینیک یو غیر انتفاعي بنسټ دی چې دهغې مصارف د تابش پوهنتون او دحقوقي مساعدتونو دهمکارو ادارو له طریقه تآمین کیدای شي.

درهبرۍ بورد کولی شي چې ټول مالي منابع دحقوقي کلینیکونو دفعالیتونو اداجراء او ایجاد  لپاره دطرزالعملونو په نظر کې نیولو سره تعین او تصویب کړي.

**دمالي مصارفو څخه نظارت**

**۲۰ ماده:**

دمالي امکاناتو له مصارفو څخه د تابش پوهنتون دمالي او اداري چارو  دمعاونیت په شمول درهبرۍ بورد به نظارت کوي.

## څلورم فصل

## متفرقه احکام

**مُهر**

**۲۱ ماده:**

حقوقي کلینیک دیوې ځانګړې مُهر لرونکی دی. چې د تابش پوهنتون لوګو او دحقوقي کلینیک د تآسیس کال یې دمهمو خصوصیاتو څخه ګڼل کېږي.

**عدم انحلال**

**۲۲ ماده:**

دا چې حقوقي کلینیک دحقوقو پوهنځي دنصاب برخه ګڼل شوی ده، دغه بنسټ دانحلال( له منځه تلو) وړ نه ګڼل کیږي.مګر دباصلاحیته محکمي دحکم په اساس.

**همکاري**

**۲۳ ماده:**

۱:کلینیک کولی شي چې  پدي اساسنامه  کې د مندرجو اهدافو دتحقق لپاره دنورو مماثلو کلینیکونو سره  تفاهمنامې او همکاري ولري.

۲:  حقوقي کلینیک کولی شي چې دخپلو فعالیتونو دښه تنظیم لپاره ددی اساسنامې داحکامو مطابق ، طرزالعملونه ترتیب کړي.

**د اساسنامې محتوِ**

**۲۴ ماده:**

دغه اساسنامه دیوې مقدمې، څلور فصله  او د څلور ویشتو مادو لرونکې ده، چې د کلینیک درهبرۍ دبورډ له لورې تصویب او تائید دی.

پورته ذکر شوې اساسنامه دحقوقي کلینیک بورډ  په ( ۱ ) ګڼه      ۲۱  /  ۱  /  ۱۴۰۴  نیټې پروتوکول کې ثبت او تائید ده

دحقوقي کلینیک بورډ مشر (                                )

پورتنۍ ذکر شوې اساسنامه د پوهنتون دعلمي شورا په (۲ ) گڼه ۳۰ / ۱۴۰۴/۲ نیټه پروتوکول کې ثبت او تائید ده

د علمي شورا تائید ( )